# إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ، فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». «ځيني خلک د الله په مال کې په ناحقه؛ ناوړه لګښت کوي، نو د قيامت په ورځ د دوی لپاره اور (دوزخ) دی

له خَولة الأنصارية رضي الله عنها څخه روایت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمايل يې: «إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ، فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». «ځيني خلک د الله په مال کې په ناحقه؛ ناوړه لګښت کوي، نو د قيامت په ورځ د دوی لپاره اور (دوزخ) دی»
[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو خلکو په اړه خبر ورکوي چې د مسلمانانو په مالونو کې ناوړه تصرف کوي او په ناحقه يې اخلي، دا (تصرف)هر ډول مال ته شامل دی چې راټوليږي او يا په ناروا توګه تر لاسه کيږي او بې ځايه په ناحقه ځايونو کې لګول کيږي، پدې کې د يتيمانو مالونه، وقف، په امانت منکريدل او له حق پرته له عامه مالونو څخه اخيستل شامل دي. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې د قيامت په ورځ د دوی جزا دوزخ دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5331